اې ابو سعيده! څوک چې پر الله د رب، پر اسلام د دين او پر محمد صلى د پېغمبر په توګه راضي وي نو جنت ورته واجب شوی دی

له ابو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله وفرمايل: اې ابو سعيده! څوک چې پر الله د رب، پر اسلام د دين او پر محمد صلى د پېغمبر په توګه راضي وي نو جنت ورته واجب شوی دی»، ابو سعيد دې خبرې ته حيران شو او ويې ويل: «اې د الله رسوله! بيا يې راته تکرار کړه» نو رسول بيا تکرار کړل، بيا يې وويل: «او بل عمل چې له امله يې سړی په جنت کې سل درجې لوړيږي، او د هرې درجې ترمنځ فاصله د آسمان او ځمکې ترمنځ ده»، ابو سعيد پوښتنه وکړه: يا رسول الله هغه څه دي؟ رسول الله وفرمايل: «د الله په لار کې جهاد، د الله په لار کې جهاد».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله ابو سعيد الخدري رضي الله عنه ته خبر ورکړ چې څوک په الله ايمان ولري، هغه د رب، خالق، مالک، بادار او امر کوونکي په حيث ومني، اسلام په پيرو او ورته غاړې ايښودلو کې د دين په توګه ومني، او محمد د داسې پېغمبر په توګه ومني چې د هغه ټول پيغامونه او هغه څه ومني چې هغه خلکو ته رسولي دي، نو د هغه لپاره جنت ثابت دی، ابو سعيد رضي الله عنه د دې خبرې په اوريدو سره حيران شو او ويې ويل: «اې د الله رسوله! دا راته بيا ووايه» رسول بيا تکرار کړل، بيا رسول الله وويل: «او بل عمل شته چې په وسيله يې الله تعالى سړي ته په جنت کې سل درجې لوړوي، او د هرې درجې ترمنځ فاصله لکه د آسمان او ځمکې ترمنځ ده» ابو سعيد وويل: ««هغه څه دي اى د الله رسوله؟» هغه وفرمايل: «د الله په لار کې جهاد، د الله په لار کې جهاد».

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4193